# بله ډیوه




| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | بله ډیوه | 1. |
| ليکوال | خالد حيدري | 2. |
| د ليکلو نيټه | 2000 کال | 3. |
| خپرندوی | پښتو ادبي بنډار | 4. |
| برېښنا ليک | afghanitan.anag@gmail.com | 5. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

هغو عاشقانو ته چی د مینې درد په زړه کښې ساتي

یادونه

د یادونی وړ بولم چی دا ناول په لنډو لیکل شوې موخه یې داده چی لوستونکي ډیر نه په تمعه کوي لنډ او اړین معلومات په لنډ وخت کښې لوستونکي ته هدیه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پشکال میاشت وه وروسته له غرمي دوه بجي وی ګرمي بي پایه وه داچي د کډوالي ژوند وه برښنا مو هم نه لرله زه او باغچه ګل د کورونو څخه را ووتو سره له دي چی تبې مي تازه وه او ډاکټر د لمبلو څخه منعه کړی وم خو ګرمي دومره ډیره وه بله چاره مو نه لرله د کلي ستر نار ته لاړو او ښه ډیر مو ولامبل شاوخوا دري بجی وي چی اکا راغږ کړ قیومه څویه دلته راشه ژر ژر می جامي په غاړه کړی او ورمنډه مي کړه اکا ویل کورته ولاړ شه جامي دی بدلی کړه ما دی ابا ته ویلي تاته مي دنده موندلې اوس دی وروړلم ډیر خوښ شوم کورته لاړم مور جامي راکړی بدلی می کړی بیرته اکا ته ورغلم موټر ته پورته سو او د حیات اباد په لوري روان شو په زړه کښئ ډیر خوښ وم خو کله به چي باغچه ګل را یاد شو لړ به خپه شوم چی هغه به زما په نه شتون کښئ د چا سره ګرځي ما او باغچه ګل به په ګډه د هر چا په مخ کښئ دریدو ښه یوالی او تحاد مو لره موږ به چی یوځای وو د کلي ښوښو ځوانانو به هم موږ سره د شخړې جرات نه کوو لنډه دا چی حیات اباد ته ورسیدو زه یې یو مشر سړي ته چی د ساتونکي یا څوکیدار دنده یې لرله په لاس ورکړم هغه له ځان سره کورته بوتلم هلته یو پوخ عمر لرونکی ښځه وه هغې ته یې وروپیژندم هغې راته هرکلې اوویل او ځینې پوښتنې یې راڅخه وکړي په پای کښئ یې وپوښتل بچیه تا خپلی جامي ولی نه دي راوړي ما ورته اوویل زه یوازې دوه جوړه جامي لرم هغه بله جوړه به هم د چا په لاس راواستوي هغې وخندل څه یې ونه ویل او لاړه په تلوتلو کښئ اوویل څوکیداره ده ته خپله خونه وښایه کله چی زه او څوکیدار کاکا خونې ته ولاړو لمړی می په پکه سترګې ولګیدی ډیر خوښ شوم او د خدای ج شکر می ادا کړ مازدیګر د کور خاوند عاطف خان هم راغی څوکیدار کاکا زه ور وپیژندم عاطف خان په لمړی لیدنه کښئ راته په قهر شو تاته چا سلام نه دی ښودلی زه غلی شوم چوپتیا مي غوره وګڼله زکه ډیر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخته ددندی خاوند شوې وم ماښام عاطف خان تلخوني يا تاکاوي
ته وروغوښتم ورغلم سلام مې ورواچوه خان بيا په قهر شو ويل
يې ډير سلامونه مه اچوه زړه مي ډير ورته تنګ شو زړه مي غوښتل
چې همدلته يې ښه ودبوم خو چوپتيا مي غوره وګڼله عاطف خان
خپل پچي راوپيژندل دوه زړه سواندي ځامن او يوه ښکلی لور په ما
يې امر وکړ زهرا ته به بی بی وايې او زامنو ته به مي فيصل خان او
ادنان خان ماهم او ويل ښه ده خان صاحب اوس به زه لاړشم عاطف
خان هم د ګوتو په اشاره اوويل ورزه زه خپلی خونې ته لاړم لږ شيبه
وروسته زهرا راغله او له هنداره يې راغږ کړ ستانوم څه دی قيوم
زهرا  اوويل ډير ښکلی نوم ده ښونځي دی لوستی او تر لسم پوري
مې لوسته زهرا اوويل شابس زه هم سږکال د لسم ټولګي نه فارغه
شوم له مايې ځينې پوښتنې وکړي زه په انګلسي نه پوهيدم او هغه
په پښتو زکه يې ټولی پوښتنې بي ځوابه پاتې شوي په پاي کښئ راته
اوويل د بابا په خبرو مه خفه کښيږه هغه ډير نيک انسان دی يوازې د
مغزو نه لږ کرک دی ما ويل نه ستونزه نشته تاسو ټول ډير ښه خلک
ياست په دی وخت کښئ د زهرا مور راغله او ماته يې ويل رازه بچيه
تاته ځينې کارونه درپه ګوته کړم زه يې پخلنځي ته بوتلم او څو نا اشنا
کارونه يې راپه ګوته کړل لکه لوښي مينځل جارو وهل او داسې نور
په همدی بی خونده کارونو بوخت وم ورځې او شپې تيريدی يوه ورځ
چې غالب د يونې يا يکشنبه ورځ وه د خوراکي توکو د پيرلو په موخه
د مارکيټ په لور روان وم په لاره مي د زهرا سره په داسې حال کښئ
وليدل چې هغه د خپل ملګري وقاص سره په موټر کښئ د هغې سيمي
څخه تيريده ماته يې سلام وکړ ويې خندل او لاړل ماښم ددروازی
زنګ وشړنګيده زه د عاطف خان په ميلمستون کښئ وم ميزونه مې
پاکول څوکيدار کاکا دروازه خلاصه کړه زهرا را دننه شوه د څوکيدار
کاکا سره يې ټوکې لرلي د عادت له مخي يې ورته کوم څه اوويل
دواړو وخندل زهرا زه وليدم نيږدي راغله او ويې ويل قيوم خان سلام
خومي درته وکړ خوشحال شوي که نه ماويل او بی بی ډير خوشحال
شوم زهرا وخندل روانه شوه بيا ودريده مخ يې راواړه قيوم خان هغه
وقاص وه زما ټولګيوال ده هيله ده چي بابا ته اونه وايې ماويل سمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده سبا سهار لس بجي د زهرا ماما راغي سلام مي ورته وکړ هغه هم
علیک اوویل زهرا د ماما په لیدو ډیره خوښه شوه په منډه راغله غیږ
یې ترې تاوه کړه د سترې مشي وروسته یې زه وروپیژندم هغوي چی
کله د میلمه خوني په لور روان شوه زهرا شاته را وکتل موسکې شوه
لاس یې راته اوښوروه او د نوري کورني سره د لیدو په موخه دننه
لاړل د زهرا موسکا او لاس ښوروني پرما ډیر اغیز وکړ په زړه مي څه
وشوه داسې څه چی د زهرا تصویر مي په سترګو کښې پاتې شو دا
چی د پښور ټول ښونځې او پوهنتونونه روخصت وه زهرا به تل په
کور کښې وه کله کله به د ملګري په پلمه د وقاص سره د لیدو لپاره
تلله هر وار به چي راستنه شوه ماته به یې په دوه لاسونو سلام کوه
او ترخو به چي خپلی خوني ته رسیده دوه یا دري واري به یې شاته
راکتل او خوږه مسکابه یې کوله د هغې د هر وار کتو سره به مي له
پښو دمه لاړه رنګ به مي زیړ شو یوه ورځ د زهرا ټوله کورنۍ د چمن
ترځنګ په برنډه کښې په څوکیو ناست وه سخت طوفان شو زهرا
راغږ کړ قیومه دلته راشه ورغلم له مایې وغوښتل چي بام ته وخیژم
او کیبل سم کم زه هم لاړم هڅه مي وکړه خو داچي پري نه پوهیدم
بریالي نه شوم کله چی بیرته راښکته شوم زهرا رانیږدی شوه ویې
خندل نوره هم رانیږدي شوه غوښل یې چی څه اووایې په دی وخت
کښې کوچني ورور راغی او ټوله قیصه یې خرابه کړه هغه اویل اه زه
به بابا ته اوویم تاسو څه کول زه ډیر وډار شوم زهرا ویل مه ډاریږه
هیڅ خبره نه ده ادنان یې په یو چاکلټ دوکه کړ اوبس   وروسته له
همدي شیبی زه ډیر ډاډه شوم کله به چي زهرا په ستره خونه کښې
ټلویزیون کوت مابه ورته له پخلنځي کتل داسې چي ټول کارونه به
راځخه پاتې وه مشري بی بی به ویل بچیه ته خو ډیر کاریګر وي اوس
ولی داسي لټ شوي یې یوکار هم سم نه کوي کله به چي زهرا په خپله
خونه کښې وه په یو پلمه به ورغلم او وبه مي لیده هغه به موسکې
شوه څه به یې نه ویل لنډه داچي یوه شیبه به هم نه تیریده چي هغه
ونه وینم زهرا به چي له میلمنو سره وه او یا به هم د خپلي کورني
سره وه داسې شوخي اشارې هب یې کولي چي زه به هیران شوم
چی دا جینۍ خو هیڅ ډار نه لري زه به چي په کار بوخت وم تل به په

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه پلمه زما خواته راتلله او ځان به يې راته اوښود په يوه پلمه به يې ځپل لاس زما د لاس سره ونښلو او داسې( نور ) وخت تيريده چې يوه ورځ د زهرا امه ياترور د لندن څخه راتله د هغې کورني د هغې د امه پسې هوايي ډګر ته لاړل يوازې څوکيدار کاکا زه او زهرا په کور کښې پاتي شو عاطف خان چې کله له کوره وته ماته يې په قهرجن غږ اويل هلکه زهرا په کور کښې يوازې ده پام کوه داسې لکه په ټوله قيصه چې خبر وي ماويل سمه ده زهرا زه تل خونې ته وغوښتم او له ماڅخه يې اوغوښتل چې ورسره په کامپيوټر کښې لوبې وکړم هغه ماته نيږدي وه دومره نيږدی چې هيڅ واټن نه وي ماهم د همدی وخت څخه ګټه پورته کړه او ورته ومي ويل زهرا جاني زه درسره مينه لرم هغې په برق برق وخندل پوهيږم ګرانه زه هم کله چې ته ماته پټ پټ ګوري هغه چې ته فکر کوی چې څوک دی نه ويني په اصل کي تاټول وينې زه چې ستا دا ليونتوب ګورم او ستا مينه ګورم زړه می غواړي چې ټوله دنيا پريږدم او ستاپه څنګ کښې اووسم تل می زړه غواړي چې تا ځانته نيږدي کړم خووووو......خو څه ته خو پوهيږي چې زه يو ملګري لرم هغه زما ټولګيوال وقاص يادوم زما او د وقاص تر مينځ هيڅ پرده نشته موږ يوبل ته ډير نيږدی يو او ترټولو اړينه دا چي له يوبل سره مو د واده کولو ژمنه کړی زه چپ پاتې شوم زکه ماسره د ويلو څه نه وو زهرا هم لږه شيبه غلی وه ورسته يې اويل زما واده ته لا ډير کلونه پاتې دي زه به تل ستا دمينې قدر کوم او ستا هره غوښتنه به په سر سترګو منم نه پوهيږم چې په ما دی څه جادو کړی ماسره د ويلو څه نه وو له همدی کبله غلی پاتې شوم او د تلخوني دباندې اووتم زهرا هم په تلوتلو کښې له ماڅخه هيله وکړه چې ما اوبښه همداسي څلور ورځې تيري شوې او ما په دی څلورو ورڅو کښې د زهرا سره هيڅ اړيکه نه لرله نه مي ورته کتل او نه يې راته خندل په پنځمه ورځ زهرا غږ وکړ قيومه تلخونې ته راشه دلته مار ده زه هم په چټکې ورغلم او د مار په سر مې پښه کيښوده مامي له پښې تاوشو ډير زور يې راکړ لږڅه يې ژوبل هم کړم خو مړ مي کړ کله چې د تلخونی راروان شوم هغې د لاس نه ونيولم او ځانته يې نيږدی کړم خوما کته کتل کوم غبرګون مي ونښود هغې هم په غوسه زمالاس پريښود او ويل يې مار

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د باندې يوسه تلخونه صفا کړه بيازه او لاړه زه هم اړ وم چې دا کار وکړم ورځ تر بلی مو اړيکې خرابيدی تر دی چې يوه ورځ عاطف خان د عدت سره سم په ما غوسه شو ماهم پلمه لټوله اوس می پلمه پيدا کړه د زهرا پلار می راچپه کړ او په ډبولو مي پيل وکړ زهرا او ورونو يې رامنده کړی او موږ يې سره جلا کړو عاطف خان چې ډير ډار شوې وه په لړځيدلي غږ يې اويل زما د کوره اوزه بيا دی دلته ونه وينم زه هم روان شوم کله چې له کوره دباندې اووتم فکر مي وکړ چې غريب سړی يې خپل کار به دی کوه هسې دی کارهم د لاسه ورکړ او زهرا هم کلي ته راغلم ابا ډير په قهر شو چې ګوندي ولی دی نوکرې پريښې د باغچه ګل دوي کور ته ورغلم دروازه مي وټکوله باغچه ګل راووت ستړي مشي مو وکړه او قيصه ورته وکړه هغه راته اويل دا پيسه داره خلک مينه نه پيژني يوازې وخت تيروي داسې يې راته نوري قيصي وکړي چي هغه وخت می د زهرا څخه او دميني د نوم څخه سخته کرکه پيدا شوه د باغچه سره مي ژمنه وکړه چي نوره به نه زهرا يادوم او نه مينه بس کلی وو زه وم باغچه ګل وو او جنګونه د خپلی ژمنې سره سم مي بيا نه د زهرا نوم واخيست او نه مي ورسره اړيکه ټينګه کړه خو زه اوس هم د زهرا سره بی پايه مينه لرم اوس هم چې د زهرا نوم اخلم زړه می هماغسې په ټوپو شي لکه څنګه به چي د زهرا په څنګ کښئ وم زما مينه ورځ تر بله لا زياتيږي د زړه درد می لا ډيريږي ..............................................

هغه باران هغه طوفان کښئ چې نيږدی راغللی

هغه په مينه دی چې لاس راکړ او ښکول دی کړمه

هغه احساس هغه خيالونه مي له هيره نه ځي

**پاي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**